عبدالاحد سرتیپ ۲۰۱۷/۷ /۴

تاریخی پټ پټانی

(اومه برخه)

(د کندهارنا لیکل سوی تاریخی کیسی)

که څه هم په اومه برخه کي هم د شپږمي په شان ډېرشعرونه سته چي د یادولو وړ دي خو مهمه داده چي د قاضي عبدالسلام بابا مینه د غازي امان الله خان په هکله داسي لیونی ده لکه د غازي امان الله خان چي د خپل هېواد او خلکو سره درلوده ، کله چي څوک د قاضي بابا د اشعارو سره اشنا سی وبه وینی چي د هغه په سېنه کي دو مینو داسي سنګر نیولی دی چي د هیڅ بشر په زړه کي به هم ځای ونلري ، دی د اسلام دین اوغازي امان الله خان سره مینه په یوه تناو تړي او پر یوه سینه یي ګرزوي ، داسي ترخه حقایق وایي چي زما ګوتي یي د لیکولو توان د لاسه ورکوي ، دلته هغه لنډۍ را یاد سي لکه په دي لنډۍ کي چي وایي (پر سینه یو مین ځایږي زه لونګین او مین دواړه ځآیومه) د ده لیونتوب په لاندي بیتو کي لیدای سو:

لښتی اوښکی می دسترګوسه روان ولاړ تنها پـاته سوم دڅنګه می یاران ولاړ
پرغازی امان الله می اوښکی زغاستی چی دخپله تخته وتاجه په ارمان ولاړ
پـه کوګل کي تودی لـــمبي دنـنـــه بلیدی دود یي تربـــامه د آسمان ولاړ

په بل شعرکي وایي :

ازادۍ خو درکړه دي نـــــمک حرامو لاغـــــازي امان الله دی دعتاب وړ
بي غازي امـــــــان الله به توپاني سو راسی ملود نوح کښتی ده د دریاب وړ
و دښـــمـن ته د اسلام عبدالسلام
داسي بل نارینه نسته د جواب وړ.

په بل شعرکي وایي :

د شیطان قصه دي هیره سوه افسـوس چي د کبره سه لاس نه مـیـنځي هنوز
فرنـــګي پښتني لیڅـــــي بي حیا کي زما ویل خو مو ترخه نـــښلي پرغوز
ولاړ غازي امان الله پـښـتانه خدایه مـهـربـــان مشفق نـــلـري دلـــــسوز
ګـــلان ووهل خزان عبدالسلامه
څه راز مینه بلبلان راوړی په ځوز

په لاندي شعر کي د غازي امان الله خان پرضد چي کومه توطیه د تکفیرجوړه سویوه د هغه په باره کي قاضی صاحب د دي شعرغورچنګ رانقلوم :

پـښتانـــه مدعي بوت اکـثـرغلـط په شـیـــطان سړی کوي بـــاورغلط
پـــــه دوستی د منافق مه خـطاوزه کېني پټ په لارکـــــي څاه ژورغلط
د کوډګرو د دوکـــــان ګیانه کوته ده خرځوي پـــــــرنابلدو زر غـــلط
پـــه ستاینه د وریندارې پـــــه بدلو پـــورته ګـــوري خیالور لېورغـلط

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

کـــه د مـــور میل د بوډی چپ ځه دا ګېدړه به دي بوزي خـــرغـلـــط
د غـــــازی امان الله خطره هم داوه پـرشا خوشـــی ولاړد ده لښـــکرغلط
بـغـاوت خـوځلورزره مفتیان غواړی کونې و ړوند قـبـــلوی یو خـبـرغـلـط
پر حـق نــه منی راځه عبدالسلامه
نــمـرود رای لا تر دې بـتـرغـلـط

په دې شعر کې د پښتنو پر پخواني یووالی او هېواد څخه د غازي امان الله خان پر وتو داسي افسوس کوي .

پـښـتـانه د مـخه ټوله یو بـــــدن و هرقریب دبل غریب په درد خوږمـن و
د مـیـــوند غزا دایـــه لڅانو وکـــړه نـــګـهـیـبـانه د مـــذهب و د وطـــن و
شاه شجاع د فرهنګی دوستـي درلوده یوظـــالم عـــبدالـــرحمن باندي مین و
وغـازي امـیـر ایوب ته دواړه یـوسو ګوره کـفـر داسي چـیـري قـوتـمـن و
افـرین دی پر زړه مـسـلماني سـي چې د مرګ پر خوا ورڅرخه خپل کفن و
ده خوندي کو پښتانه دمشرک ټک سه فـضـــل عدل د بـــاچـــا خـلـق حسن و
ازادئ و فـــــراخي څوني ارزاني وه چـــې امـیـرامان الله پـر دې وطـــــن و
لـــکـه زر صدق هرچا درلود دنـنـه عـقـیـدی پـــــاکـــــي بي وینو هر لـبـن و
انـګـریـزی مدرسې نه پیژاندي خلکو نه ګاډی نه یو ځـــــړک نه دا چـمـن و
چا د ده پـسـخـورده نــه ګـنـلـه پـاکه کفر ټـول د پـښـتـانه ملـت دښـــمن و
ولاړ هـغـــه نوشیروان عبدالسلامه
چې یـتـیـم صغیرخاکساره پـه یمن و

په دې شعر کې اخګزو ته داسي نصحیت کوي .

زه دا پـــنـد وایم د پـــاره د اخـــک یـو بیکانه په میانکی مه پریږدی دی مشرک یو
دواویا پړکـــه تـرسا سپي لـــیونـــی کو څوک پرلارد شـــــریعت نه ځی سالک یو
لـــــیـاقت ځـــه افت وواهی مجـلسه ګاندي هم وخوړ پر سر دا یه چـټـــک یو
پښتنوقـــران لازموړپه کـورکی بریښي مه بـدیـــږی را پدې خـــــوا تراټـک یو
د جـــــال ډیـرپه جـــادوواړول وځانته مـسـلمان نه لوی پاتیږي نه هـــلـک یو
توریالي دهلي نیوی بی شـــکه درونـد و پر جمله پښتنو خان خوشحال ختک یو
سقاویان قاضیان چیبني مـرداري ویني پـخـوا داسي رشوت خور نه ومـــلـک یو
خو دښـــمن د ده په تـــوره سـومجـبوره چا سربیره پرسرنه درلود ځـمـبـــک یو
نو انـــکریز د قـنـدهـاره ســـو بـیـزاره سپین بولدک وکی دروند واری چابک یو
زام د مصرپاچـــاهی به لاس له ورسی که یوسف غوندی پیداسی داسی ورک یو
چـــې دنـنـــه سپي ســـاتي عبدالسلامه
الهام نـــه وړی هغه زړو له ملایـک یو .

په لاندي شعر کې شاعر د ځینو رازونو څخه پرده پورته کوي .

چې پاچا شارع طالع خواخوږي یار سي زام د قبـر وړده دربه په سهار سـي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تـــا لیدلم په هندي دوړو کـــي بـــــنـــدي وم معضوب نـوم سوسن چمن دی یادګارسي
د ده فـضـــــــل امـــــــــان ومنه باغـــوانه پرمـخ مښلوچې حامي اسلامي خوار سي
ښـــــه کوه پـــه بد یاران بیزاره کیږی
پـــه نیکی لابیګاننه درسړی جارسي
تـــکبـــرو ظـلـــم بـــاسه د وطـــنـــــه
په سخاباران به وچ غرونه ګلذارسـي
نوربیا

ّ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ